بسم الله الرحمن الرحيم

# امریکا؛ د ښتو داش که د سلاټې قاب

## خبر

د جورج فلویډ د وژلو په اړه غبرگونونه

## تبصره:

څه نوې خبره نه ده کله چې وایو امریکا او د هغه شاته پانگوال سیکولر لوېدیځ دولتونه په خپلو ټولنو کې د نیژادپالنې د ستونزو په حل کې پاتې راغلي دي. دغه ستونزه د پانگوالۍ نظام، فلسفې او اساسي فکرونو طبیعي لاسته راوړنه ده، چې نړۍ یې د ظلم اغېزې شېبه په شېبه گوري.

مشهور امریکایي لیکونکی ساموئیل هانتینگتون، په خپل کتاب (موږ څوک یو؟) گڼې طرحې او ډول ډول کلتوري برنامې لیکلې او تشبیه کړې دي. دی وایي: «د رومي بانجان سوپ او جوش شوی دیگ له یو حقیقي امریکایي سره ورته نه دی، ځکه د امریکا موزاییک، سلاټ، یا حتا داسې سلاټ دی چې اجزاوې یې گډوډې شوې او په زور سره حرکت نه کوي.» دا اوسنی واقعیت دی چې شواهد یې خورا ډېر دي.

بشریت په بېوزلۍ کې ژوند کوي او هرې خوا ته چې گوري د خلاصون لاره نه شي موندلای او کومه عملي نمونه هم نه پیدا کېږي، چې د انساني با کرامته ژوند طریقه پکې وي. د اسلامي دولت او د هغه له تمدن پرته دا نښه نه شي پیدا کولی.

دلته د اسلامي ژوند یوې برخې ته لنډه کتنه کوو، چې خلکو څو پېړۍ د خلافت تر سیوري لاندې له هغه سره ژوند کړی دی. په اسلامي تاریخ کې ثابته شوې چې اسلامي فتوحات په ډېرو ښارونو او خلکو کې شوي و. عراق فتح شو او هلته نصاري، مزدک، زردشت، فارس او عربو ژوند کاوه.

فارس فتح شو او هلته غیر له عربو، لږ یهود او رومیان هم اوسېدل او دین یې د فارس ایین و. شام فتح شو، مذهب او فرهنګ یې رومي او دین یې نصراني و او هلته سوریانو، ارمنیانو، یهودانو او ځینو عربو ژوند کاوه.

مصر فتح شو او هلته مصریان، ځینې یهود او رومیان اوسېدل. د افریقا شمال فتح شو او هلته بربریان اوسېدل او د رومیانو په لاس کې و.

خوارزم، سمرقند او اندلس فتح شو او دغو سیمو ډول ډول قومونه، ژبې، دینونه، عادات، قوانین او مختلف فرهنګونه لرل. په همدې دلیل یې یوځای کېدل د واحد امت په توګه چې دین، ژبه، فرهنګ او قوانین یو شي، ډېر ګران کار و. په دې چاره کې کامیابي غیر عادي ګڼل کېږي، چې پرته له اسلام څخه لاسته ته نه راځي او له اسلامي دولت پرته نه شي ترسره کېدای.

له شک پرته ټول خلک وروسته له دې چې د اسلامي بیرغ تر سیوري لاندې راغلل، اسلامي دولت پرې حاکم او اسلام یې ومانه؛ واحد امت شو؛ چې هماغه اسلامي امت دی او دا د اسلام د حاکمیت اثر دی، چې دوی اسلامي عقېدې ته غاړه کېښوده.

د دغو کسانو د یو ځای کولو لپاره ډېر څه وو. له دې ډلې اسلامي احکام وو چې فیصله یې کوله، تر څو محکومو کسانو ته په انساني سترګه وکتل شي، نه په نژادي، قومي او مذهبي. په همدې توګه احکام په ټولو یو شان پرته له دې چې مسلمان دي، که غیر مسلمان، پلي کېدل. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴾

[مایده:۸]

**ژباړه:** قومي دښمني تاسو باید اړ نه کړي چې راکړه ورکړه ونه کړئ. راکړه ورکړه وکړئ، ( په ځانګړي ډول له دښمنانو سره) را کړه ورکړه تقوا ته نېږدې او د الله سبحانه و تعالی له قهر څخه د خلاصون غوره لاره ده. له الله سبحانه وتعالی وډار شئ، ځکه چې الله سبحانه وتعالی پر ټولو هغو شیزونو خبر دی، چې تاسو یې ترسره کوئ.

ټول خلک په فیصله او قضاوت کې یو شان وو. حاکم کله چې د خلکو چارې رهبري کولې او پر دوی یې حاکمیت کاوه، قاضي چې کله پر خلکو قضاوت کاوه، کومه بله موخه یې نه لرله، چې د چا لپاره حکم کوي او یا د چا په منځ کې قضاوت؛ یوازې موخه یې دا وه چې د انسانو چارې رهبري او شخړې یې له منځه یوسي.

په اسلام کې د حکم نظام د دولت د اجزاوو په وحدت حکم کوي، څنګه چې د هر ولایت د اړتیاوو د پوره کولو لپاره په انفاق سره د دولت له بیت المال څخه حکم کوي. پرته له هغو مالیو چې لږ یا ډېر ځنې اخلي او یا دا چې پر دغو اړتیاوو وفا کوي، یا نه. څنګه چې د اقتصاد د وحدت لپاره له ټولو ولایتونو د مالیو راټولولو حکم کوي. په دې طریقې سره ټول ښارونه فتح کېږي او ولایتونه په دولت کې واحد کېږي.

هو، په داسې نظام سره خلک د پانګوالۍ نظام له ظلم څخه د اسلام عدالت ته راګرځول کېږي او د دنیا له تنګۍ څخه د اخرت پراخۍ ته ورځي.

بشر ته د داسې حالتو پیغام دا دی، هغه نظام چې د بشریت ژوند اصلاح کوي، هغه نظام دی چې د الله سبحانه وتعالی له لوري دی او د مسلمانانو لپاره په ځانګړي ډول دغه نظام باید د دې لامل شي چې د نبوت پر تګلاره د اوسني نظام بدیل وړاندې کړي.

**لیکونکی: م. اسامه الثویني، د کویټ د مطبوعاتو اداره**

**ژباړن: الهام پردېس**